**د افغانستان اسلامي جمهوريت**
**د اقتصاد وزارت**
**د افغانستان د ملی پرمختيايي چارو**
**دعمومي پاليسی ، څارنې او ارزونې دستراتيژۍ رياست**

**مطبوعاتي اعلاميه :**

د هيواد د ولاياتوپه باب د لنډو معلوماتو رسمي خپرونه :

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اقتصاد وزارت او دنړيوال بانک په ګډه د هيواد له ولاياتو لنډ راپور د ملی خطراتو او زيان منني (NRVA) د پلټنی په پايله کی په ۱۳۸۶-۱۳۸۷ کلونو کي راټول شوی اوس يي نشر ته سپاري ، دا راپور د يو شمير ټولنيزو او اقتصادی ځانګړنو بيلا بيلې برخې لري چې دسوکالی اوغريبۍ د سطحې په ګډون دنا برابری ، خوراکي توکيوته لاس رسی ، کارميندني ، په بيلابيلو سکتورونو کي دکارويش ، د ښځينه و او نارينه و ترمنځ برابري ، ښوونه او روزنه ، روغتيا او بنسټيزو خدمتونو ته لاس رسي په باب معلومات وړاندې کوي.

دا راپور د درې اهدافو لپاره تيارکړی شوی دی :

۱- يا د راپور د هر ولايت په باب يو وړوکي تصوير وړاندې کوي ، چي بيايي د نورو ولاياتو له پرمختيايي چارو او په پای کي يې په ملي سطحه مقايسه کوي . دا مقايسوي کړنلاره دپرمختيايي چارو د پاليسيو دلاښه والی په خاطر په ځانګړې توګه د ولاياتو په سطحه دټاکليو لومړيتوبونو او مدارکو لپاره په نظر کي نيول شوې ده .

۲- دا راپور هغه ځانګړي تفاوتونه چي دولاياتو په سطحه په پرمختيايي چارو کې ليدل شوي د سوکالۍ توليزه پيژندنه چی د فقر او غريبي د حالاتو په راپور کي وړاندې شوې غني او پوره کوي .

3- ددې راپور ځانګړتياوی دبنسټيزوخطوطو (بيزلاين) په توګه دولايتي سوکالۍ ځانګړنې شميرل کيږي ، چي په راتلونکي کی به د ملی خطراتو او زيان منني سروې بياله سره نوې شي.په دې وراندې کړای شوې شميرنه کی هغه ټکي رابرخيره کيږي چی په افغانستان کي پرمختيايي پايلي له يوه نه په بل ولايت کي متفاوتي ښيي. دساري په توګه د هلمند په ولايت کي د غربت کچه ( ۹) سليزه او په پکتيا ولايت کې۷۶ سليزه ده ، چی د پام وړ تفاوت له منځني کچې سره چي په ملي سويه ۳۶ سليزه ده ، څرګندوي او يا د دايکندي ولايت په ښوونځيو کي د (۱۲-۶) کلونو ترمنځ د کوچنيانو د شموليت سطحه ډيره لوړه ده ، چي په هرو دريو کوچنيانو کي يويي په ښوونځي کې شامل دی ، په داسي حال کي چي د ارزګان په ولايت کې دکوچنيانو داکچه (۲) سلنه ده ، چي داترتولو ټيټه کچه ده ، بنسټيزو خدمتونو ته لاس رسي لکه بريښنا ، دڅښلو صحي او به هم د ولاياتو ترمنځ دزيات لوړ او ځوړ څرګندونه کوي ، دساري په ډول په کابل کي په سلوکي ۸۵ کورنۍ بريښنا ته لاس رسی لري، په داسې حال کې چي داکچه دبادغيس او ارزګان په ولايتونوکي ۴سلنه ده .

لکه څنګه چي يادونه وشوه ، دا راپور د افغانستان د اسلامی جمهوريت د اقتصاد د وزارت او نړيوال بانک په ګډو هڅو ترتيب شوی دی چي د تصميم نيولو په لړکې به آسانتياوې رامنځته کړي او په پايله کی به يې دغوره پاليسيو په خپلو لوسره دهيواد دغربت دسطحي دټيټوالي لامل شي ، داراپور داقتصاد وزير جلالتمآب عبدالهادی « ارغنديوال » او په افغانستان کي دنړيوال بانک د رئيس ښاغلي « نيکولاس کرفت » په ملاتړ او لارښوونه ترتيب او نشر شوی دی.

داقتصاد وزير جلالتمآب عبدالهادی « ارغنديوال » او دنړيوال بانک رئيس ښاغلي نيکولاس کرفت ويلي دي ، چي داراپور هغه شواهد وړاندې کولای شي ، چي دولاياتو په سطحه دلومړيتوبونو چارې او ديوه ټاکلي هدف په توګه بهترينې لارې چارې غوره کړای شي او په نتيجه کې يې دفقر کچه را ټيټه او دافغانستان دخلکو دسوکالۍ لامل شي .

داقتصاد وزارت او نړيوال بانک داستراليا دبين المللي پراختيايي ادارې « AusAID» نه ددې راپور دچاپ او نشر په باب مننه کوي ، ديادونې وړ ده چي دمرکزي احصايي له نظرياتو او وړانديزنو ، دکليو دپراختيا وزارت ، مالي وزارت ، کار او ټولنيزو چارو او شهدا او معلولينو وزارت او همدارنګه اروپايي اتحاديې ( EU ) ، دانګلستان دپرمختيايي ادارې ( DFID ) ، دخوراک دنړيوال پروګرام ( WFP ) آسيايي پراختيايي بانک
( ADB) دافغانستان لپاره دملګرو ملتودماموريت ( UNAMA) له مرستو او دجاپان هيواد دبين المللي مرستو او همکاريو له اداری ( JICA) نه د دغه راپور په برابرونو او سمونوکې دمرستې او همکارۍ مننه وکړو.